مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۲/۰۴/۱۸

# د ښځو لیک لوست په اسلام کې (د نجونو زده کړې)

## (څلورمه برخه)

**د نجونو د زده کړو دښمنان:**

د غازي امان الله خان له واکمنۍ وروسته چې کله حبیب الله کلکاني (بچه سقاؤ) واک ترلاسه کړ نو په لومړي ګام کې يې د نجونو ښوونځي وتړل او د نجونو زده کړې يې یو کفري عمل وګاڼه. په دې اړه د هېواد مشهور لیکوال او د انیس ورځپاڼې مسؤل مرحوم غلام محی الدین انیس چې د سقاؤ د واکمنۍ پر مهال په کابل کې ؤ، د حبیب الله سقاؤ تاریخي وینا يې په خپل کتاب (بحران و نجات) کې خوندي کړې ده چې کټ مټ يې رانقلوو:«نزدیک های ساعت ۱۲ سقو، در حالیکه باغ مهمان خانه پر از اهالی کابل و کوهستانی بود و همه منتظر بیرون آمدن سقو بودند، سقو بچه، یکی از کلکین های عمارت برآمده و با همان لهجه ی عامیانه خود نطق مختصری نمود که مفاد آن اینست:«من اوضاع کفر و بی دینی و لاتی گری حکومت سابقه را دیده و برای خدمت دین رسول الله کمر جهاد را بستم تا شما بیادرها را از کفر و لاتی گری نجات بدهم، من بعد هم من پول بیت المال را به تعمیر و مدارس [مکتبها] صرف نخواهم کرد، بلکه همه را به عسکر خود میدهم که چای و قند و پلو بخورند، و به ملاها میدهم که عبادت کنند. (بعد از آن دفعتاً سر نحشش آمده تقریباً تمام رسومات دولت را از قبیل صفایی و مالیات و گمرک و غیره آن همه را وعده داد که نخواهم گرفت و بخشیدم) و دیگر من پادشاه شما هستم و شما رعیت من میباشید.

مرحوم انیس زیاتوي:«دامنه نطق را هم به قصه های غیر منطقی که عامیت و جهالت شخص او را نشان میداد از قبیل اینکه:«بروین بعد ازین همیشه ساعت خود را تیر کنین، مرغ بازی، بودنه بازی کنین، و ترنگ تان را خوش بگذارنین.» خاتمه داده واپس به اطاق خود در آمد. (غلام محی الدین انیس: بحران و نجات. ۹۶-۹۷مخ)

د سقاؤ زوی په وینا کې دا هم راغلي چې وايي:«د ښځو مکتبونه دې په کامله توګه وتړل شي، د هلکانو مکتبونه چې په هغو کې نوی(مضامین) جغرافیه، ریاضي او نور لوستل کیږي موقوف دي، د مسلمانانو ماشومان دې د پخوا په شان په خپلو مسجدونو کې له پخوانیو ملایانو څخه زده کړې وکړي، ځینې هلکان چې د تلګراف، الوتکو، توپک او د توپونو په جوړولو مشغول دي په خپل حال به پاتې شي ځکه چې د اسلامي هیواد لپاره تلګراف، الوتکې او د جګړې توکي ضرور دي.» (ډاکټر ویکتور ګریکوویچ کارګون: افغانستان در سالهای بیست و سي، قرن بیستم میلادي، ۹۴-۲۶۲)

خو د سقاؤ واکمنۍ ډېر دوام ونه کړ، ډېر ژر د وزیرستان او لویې پکتیا زمریان کابل ته راورسیدل، سقاؤ او ورسره نور غله يې په دار وځړول.

د سقاؤ له فاجعې وروسته په هېواد کې یو شمېر تش په نامه مسلمانان، په ځانګړي توګه د اخوان المسلمین ډلې په نوم (چې خلکو د دوی د ناوړه کړنو له کبله اخوان الشیاطین هم بلل) او یوه افراطي ډله وه چې د ښوونځیو له معصومو او بې ګناه نجونو سره يې دښمني درلوده، نوموړي ډلې او د دوی په څېر نورو بې رحمه ډلو ټپلو د ښوونځي د نجونو پر وړاندې ډېرې نااسلامي او ناانساني کړنې ترسره کړي دي، چې له هغې څخه يې نجونو تښتولې، وژلې او پر مخونو يې تیزاب ورپاشلي دي، په کال ۱۳۵۹ل. ل، کې د ننګرهار د طب له لیلې څخه د جهادي باندونو لخوا (۱۲۰) تنه محصلې نجونې وتښتول شوې.

ومو لیدل چې د ۱۳۹۹ل. ل، کال د لړم پر ۱۲نېټه پر کابل پوهنتون د داعش ډلې په برید کې ۲۲ تنه چې ډېری يې د پوهنتون محاصلانې وې، ووژل شوې او تر څلوېښتو زیات نور ټپیان شول.

په دې وروستیو کلونو کې د ښوونځیو د نجونو د څښاک اوبه څو ځله زهرجنې شوې او دا مو هم ولیدل چې د دښت برچي په سیمه کې د نجونو پر ښوونځی باندې برید وشو چې ۸۵ تنه نجونې يې ووژلې، موږ نه پوهیږو چې دا ډول وحشي اعمال د کوم دین او آئین پر بنسټ ترسره کیږي په داسې حال کې چې د اسلام په سپیڅلي شریعت کې دغه کړنې په جدي توګه منع دی.

د یادولو ده چې د زده کوونکو نجونو دښمنان، زموږ له هېواده بهر، د اسلام په نوم د افغانستان له افراطیانو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ځخه لا زياتې وحشيانه کړنې ترسره کړې دي، دا ډله د افريقا په شمال کې داسې يوه ډله ده چې د شېطان په لاره کې جګړېږي او «شېطان پرې مسلط شوی دی، د خدای ياد يې د دوی له زړونو هېر کړی دی، دوی د شېطان په ګوند کې دي. پوه شئ! د شېطان د ګوند کسان زيانمن دي.»

﴿اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ فَأَنسَاهُمْ ذِكْرَ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ ۚ أَلَا إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ﴾ (مجادله: ۱۹)


(ابوبکر شيکاؤ د بوکو حرام وژل شوی مشر)

دغه ډله د نايجيريا په هېواد کې د (بوکو حرام) په نوم افراطي ډله ده چې په کال ۲۰۰۴ز، کې د محمد يوسف نومي په مشرۍ رامنځ ته شوه، د بوکو حرام مانا دا ده چې (زده کړې حرامې دي) دغې ډلې خپل نوم بدل کړ او د (جماعه اهل السنه الدعوه و الجهاد) په نوم يې اعلان وکړ، نومورې ډله له (مدوکوري) سيمې څخه د (کاما) ولايت د (بويه) سيمې ته ولاړه او په هغه ځای کې يې د (افغانستان) په نوم خپل پنډغالی جوړ کړ. په لومړيو کې بوکو حرام د نايجيريا د طالبانو په نوم هم ياديدله.
د بوکو حرام ډلې يوه غوښتنه دا ده چې په نايجيريا کې دې ټول عصري ښوونځي وتړل شي او په دې باور ده چې زده کړې ګناه ده او د مخ نيوي په موخه يې بايد د حکومتونو پر وړاندې پاڅونونه وشي.
دغې ډلې په ۲۰۱۴ز، کال د اپرېل په مياشت کې (۲۷۷) د ښوونځی نجونی د (شبوک) له سيمې وتښتولې، دغو نجونو له ۱۵تر ۱۸ کلونو پورې عمرونه درلودل، له تښتول شويو نجونو څخه (۵۰) تنه يې په تېښته بريالۍ شوې، دوه هفتې وروسته د بوکو حرام ډلې يو خورا افراطي مشر (ابوبکر شيکاؤ) په يوه ويډيو کې څرګند شو، ويې ويل چې تښتول شوي شاګرداني د مينځو په توګه پلوري، هغه وويل چې دا نجونې به د مريانو (غلامانو) په بازار کې وپلورل شي او يا به په زوره د خپلې ډلې له سړيو سره واده ته مجبورې شي.
ابوبکر شيکاؤ وويل: «ما له تښتول شويو دوو تنو نجونو سره واده کړی دی چې يوه يې ۱۲ کلنه او بله ۹ کلنه ده.»
شيکاؤ، ديموکراسي، غربي زده کړې او د نجونو زده کړې وغندلې ويې ويل:«موږ دا نجونې ځکه تښتولې دي چې دوی غربي زده کړې کولې.» بوکو حرام په دې ګروهه دي چې د مسيحيانو او مسلمانانو ترمنځ په سوله کې ژوند کول خيانت دی او د جهنم له اور سره لوبې کول دي. (http://fa.wikifeqh.ir)
د بوکو حرام ډلې مشر ابوبکر شيکاؤ غربيان د نايجيريا د خلکو په فاسد کولو تورن کړل ويې ويل:«څه ډول چې زه د ښارويو او چرګانو حلاللو سره علاقه لرم، همداسې د هغو خلکو له وژلو سره علاقه لرم چې خدای ما ته د هغوی د وژلو امر کړی دی.» په لومړيو کې بوکو حرام ډله له داعش سره يو ځای شوه خو وروسته شيکاؤ له داعش سره مخالفت پيل کړ، نومورې په پای د داعش د پلويانو له خوا محاصره شو، د تسليمۍ پر ځای يې ځان وژنه وکړه. (العربيه فارسی)


(د بوکو حرام ډلې له خوا تښتول شې نجونې)

۱۴۰۱/۱/۲۹ل. ل
نور بيا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ